اللهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». «اې الله! زه ستا له غضب څخه ستا په رضايت او ستا له عذاب څخه ستا په بخښنې پناه غواړم، او له تا نه پر تا پناه نيسم، او زه پر تا ستاينې نه شمېرم (دومره ستاينه دې نه شم کولی) لکه څومره چې تا پر خپل ځان ستاينه کړې ده (لکه څومره چې ته د ستاينې وړ يې)

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې: يوه شپه مې رسول الله صلى الله عليه وسلم په بستر کې ونه موند نو زه يې په لټه کې شوم، تر دې چې زما لاس د هغه د پښو په تلو ولږېده، په داسې حال کې چې جومات کې و، او پښې يې ودرولې وې (د سجدې په حالت کې و) او داسې يې ويل:«اللهُمَّ أَعُوذُ بِرِضَاكَ هغه په مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ». «اې الله! زه ستا له غضب څخه ستا په رضايت او ستا له عذاب څخه ستا په بخښنې پناه غواړم، او له تا نه پر تا پناه نيسم، او زه پر تا ستاينې نه شمېرم (دومره ستاينه دې نه شم کولی) لکه څومره چې تا پر خپل ځان ستاينه کړې ده (لکه څومره چې ته د ستاينې وړ يې)

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

عائشه رضي الله عنها وايي چې: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څنګ ته ويده وم، هغه مې د شپې ونه موند، نو لاسونه مې د کوټې هغه ځای ته ورتېر کړل چې لمونځ به يې پکې کاوه؛ ګورم چې په سجده دی او دواړه قدمونه يې درولي دي او وايي: زه تا وسيله ګرځوم او پر تا پناه غواړم، (برضاك من سخطك)، ستا په رضايت ستا له قهر څخه- پر ما او زما پر امت - پناه غواړم، او زه ستا له عذاب څخه ستا په عفوې او ستا په زياتې بخښنې سره پناه غواړم. او پناه نيسم پر تا او ستا د جمال په صفتونو چې ستا د جلال له صفتونو څخه دي، ځکه چې پناه يوازې هم ستا څخه غوښتل کېږي، نو نه خو د خلاصي ځای شته او نه د الله څخه د تېښتې پناه ګاه شته پرته له هغه څخه. زه د دې وړتيا نه لرم چې پر تا ستاينې وشمېرم، او له دې عاجز يم چې ستا نعمتونه او احسانونه چې ته يې مستحق يې په شمېر کې راولم، که څه هم هر څومره کوښښ وکړم. لکه څومره چې تا د خپل ځان ستاينه کړې ده، نو همدا ته هغه ذات يې چې د ځان ستاينه دې هغه ډول کړې لکه څنګه چې ستا د شان سره سمايي، نو څوک دی چې ستا د ثنا حق به ادا کړي؟!


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee